

# له اور څخه محفوظ کور



**له اور څخه د ځان او خپلې کورنۍ د ژغورلو لپاره**



## په ناروېژنی کورونو کې اورونه

په ناروي کې هر کال ٦٠ تنه- چې زیاتره یې په خپلو کورونو کې وي- د اورلګېدنې په پېښو کې مړه کېږي. د اور وژنې ادارو ته له ١٦٠٠ څخه د ډېرو اور لګېدنو ټیلیفونونه شوي، په داسې حال کې چې د بیمې کمپنیو ته له ٢٥٠٠٠ څخه ډېرې د اور او اور ته نژدې پېښو دعوې ورځي. په دغو اورونو کې اکثره د ناپامۍ، نه پاملرنې او بې خبرۍ له امله لګېږي.



## د دود زنګ لوازم

د قانون له مخې، په هر کور کې باید یو دود زنګ یا **Smoke detector** ( یوه وسیله ده چې د دود یا لوګي په ډېرېدلو سره زنګ وهي او خلک بیداروي ) لګېدلی وي. په هغو کورونو کې چې له یوه څخه ډېر چتونه لري، سپارښتنه کېږي چې په هر چت کې لږ ترلږه یو دود زنګ لګول شوی وي. دغه وسیله تاسو ته اخطار درکوي اوپه دې مو پوهوي چې اور مخ په ډېرېدلو دی. داکار به تاسو ته وخت درکړي چې هم خپل ځان په ځنګ کړئ او هم ستاسو په کور کې نور کسان، اوحتی کېدی شي تاسو ته دا موقع هم درکړي چې اور مړ کړئ. دود زنګ باید د چت په تر ټولو لوړه برخه کې لګېدلي وي، او له دېوال څخه لږترلږه ٥٠ سانتي متره لیرې وي. دود زنګ باید هره میاشت او هر ځل چې تاسو له خپل کور څخه د ډېرې مودې لپاره لیرې ځئ، لږ تر لږه یو ځل وازمویئ. بېټرۍ یې باید په عادي توګه په کال کې یوځل تبدیل کړی شي.



## د اور وژلو د وسایلو لوازم

ټول کورونه باید په یوه اوبشیندي ( fire hose ) یا اورمړي (fire extinguisher) باندې سمبال وي. اوبشیندی د هغو اوبوپایپ دی چې د اور وژلو لپاره په کورونو کې لګېدلی وي. سپارښتنه داسې کېږي چې دواړه وسیلې دې موجودې وي. اورمړی باید یو ځای نصب شوی وي څو په عاجل حالت کې په اسانۍ سره پیدا شي. لاربښوونې په پوره غور سره ولولئ. دا مهمه ده چې د اور وژنې وسایل خوندي وساتل شي او په منظم ډول وکتل شي. وګورئ چې شیردان صحیح کار کوي او د اوبشیندي پایپ سوری نه وي. لاسي اورمړي د دې لپاره کتل کېږي چې ولیدل شي چې د فشار ستنه یې په شنه برخه کې وي. اورمړی مخ ښکته نصب کړئ څو د پوډرو د ښتلو مخه ونیول شي. که چېرې مو تاسو د خپلې اور وژنې په وسیله کې غلطۍ وموموئ، باید د ترمیم یا تبدیل لپاره خپل د وسایلو له تیاروونکي سره اړیکې ونیسئ.



## د تېښتې لارې

**د اورلګېدنې په وخت کې دا مهمه ده چې ستاسو د کورنۍ هر غړی وکړی شي چې په بيړه سره وتښتي. له دې امله بايد تاسو له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ چې که چېرې اور لګېږي بايد څه وکړي، او له هرې کوټې څخه د تېښتې تر ټولو ښه لاره جوړه کړئ. مخکې له مخکې مو له کور څخه بهر د يوې تيارې ټاکلې سيمې په هکله په خپلو کې سره هوکړه وکړئ. دتېښتې لارې معلومې کړئ، په تېره بيا په داسې اپارتمان لرونکو ودانيو کې چې په هره برخه کې يې ډېر خلک استوګنه کوي. وګورئ چې دروازې او کړکۍ په اسانۍ سره پرانستل کېږي، او دا په پام کې ونيسئ چې بل څه ته؛ لکه  زينه هم اړتيا لرئ.**



## د اور لګېدنې په صورت کې بايد څه وشي؟

1. **ارزول: تاسو بايد تصميم ونيسئ چې له وضعې څخه د خپلې ارزونې له مخې په څه ترتيب سره دغه ګامونه واخلئ.**
2. **نجات ورکول: دا يقيني کړئ چې په خپل کور کې ټولو کسانو ته د خطر اعلان وکړئ.  يوله بله سره مرسته وکړئ څو مخکې له مخکې ټاکل شوي ځای ته ځانونه ورسوئ. وګورئ چې ټول کسان په تېښته بريالي شوي دي.**
3. **تيارسی:  د ۱۱۰ نومرې په وهلو سره  د  اوروژنې ادارې ته  خبر ورکړئ. هغوی ته خپل نوم وښيئ ، او  د هغې ودانۍ  صحيح ادرس ورکړئ چې اور په کې لګېدلی دی.**
4. **اور وژل: که چېرې اور ډېر زيات نه وي خپور شوی، هڅه وکړئ چې مړ يې کړئ. خو ځان له لوی خطر سره  مه مخامخ کوئ. دا مه هېروئ چې دود ډېر زهري دی.**
5. **لارښوونه:  کله چې د اور وژنې کارکوونکي در ورسېږي، ورسره وګورئ او د وضعې په هکله ورته لارښوونه وکړئ. که چېرې کوم څوک نه وي راوتلی، د اور وژنې کارکوونکي پرې په بيړه سره خبر کړئ. ودانۍ ته د حيواناتو يا شخصي شيانو د را اېستلو لپاره مه ورننوځئ. دا کار د اور وژنې کارکوونکو ته پرېږدئ.**

# له ازادو لمبو سره يام وکړئ



- په کوټه کې هېڅکله هم شمه بله مه پرېږدئ. بلې شمې هېڅکله هم له اور اخيستونکو موادو سره نژدې مه ږدئ. وګورئ چې شمې په داسې شمعداني کې ځای په ځای شوي چې اور نه اخلي.

- هېڅکله هم په چپرکټ يا صفه باندې د ملاستې په وخت کې سګرټ مه څکوئ. که چېرې تاسو ويده شئ ښايي سګرټ بستره يا فرنيچر ته اور ورته کړي. وګورئ چې ټولې سګرټ داني سمې دي. ګرمه ايره نېغ په نېغه کثافت داني ته مه ور اچوئ.

- که چېرې تاسو د لرګيو بخارۍ يا نغرۍ کاروئ، بايد وچ لرګي وکاروئ او کافي اندازه شمال ولرئ. يو قوي اور چې کافي اندازه هوا ورسره نه وي، کېدی شي چې د اور په دود باندې بدل شي. دا مه هېروئ چې د خپل اورتون ځای ته د اورتون شيشه ولګوئ.

# له قصدي اور څخه ځان وساتئ



تاسو هېڅکله هم نشئ کولی چې له قصدي اورونو څخه خپل ځانونه په سلوکې ۱۰۰ وژغورئ، خو يو لړ ګامونه په دې برخه کې مؤثر ثابت شوي دي.

- زياتره قصدي اورونه له اور اخيستونکو موادو څخه، چې په ناپامۍ سره اېښودل شوي يا غورځول شوي وي پيل کېږي. په دغو موادو کې د ودانيو مواد، کارتنونه، کاغذونه يا نور اضافي توکي شامل وي. نو تاسو بايد دا يقيني کړئ چې زينې، ګراجونه او بهرني دېوالونه له داسې اور اخيستونکو موادو څخه پاک وي چې د قصدي اورلګوونکو پام ور واړوي.

- کثافت دانۍ له بهرنيو دېوالونو سره نژدې مه ږدئ. سرخلاصې کثافت دانۍ بايد له ودانيو څخه لږ ترلږه ۱۰ متره ليرې اېښې وي.

- د کور جوړونې زياتره شرکتونه د داخلي ټيليفونونو سيستم لري چې ودانۍ ته ورنژدې کېدل کنټرولوي، او هيڅوک بې اجازې ننوتلو ته نه پرېږدي.

# برقي وسايل په صحيح توګه وکاروئ



- ښخارۍ: په ښخارۍ باندې چې بله وي همېشه خپل پام ساتئ. د ډېر اور له کارولو څخه ډډه وکړئ. که چېرې تاسو ته له کوم ځای څخه ټیلیفون وشي تاسوباید اور مړ کړئ. هېڅکله هم له کور څخه داسې مه ووځئ چې اور مو بل پرېږدئ.

- د نل سرپوښ: دا یقیني کړئ چې د ښخارۍ د نل سرپوښ په کال کې لږ تر لږه دوه ځلې پا ک کړئ. په دغه ځای کې یوه زیاته اندازه ګریس راټولېږي. او که چېرې د ښخارۍ اور ډېر زیات شي، دغه ګریس یې مخه نیسي.

- د وینځلو ماشینونه او وچوونکي: همېشه چې له کور څخه ووځئ، خپل د وینځلو ماشین، د لوښو وینځلو ماشین او د کالیو وچوونکمی ماشین ګل کړئ. کله چې تاسو ویده کېږئ، دا یو ماشین هم روښانه مه پرېږدئ. له هرځل کارولو څخه وروسته د وچوونکي ماشین لېنټ سکرین پاک کړئ.



- تلوېزیون: همېشه له کور څخه د وتلو او د خوب کټ ته له تللو څخه مخکې خپل تلوېزیون د بل\ګل تکمې په وهلو سره ګل کړئ. دا کافي نه ده چې تلوېزیون د ریموټ کنټرول له لارې ګل کړئ. د تلوېزیون خپله د ګل کولو تکمه هم زور کړئ چې ښه سم ګل شي.

- نور برقي وسایل: تاسو باید همېشه خپل حرارتي برقي وسایل ( د کافي ماشینونه، اوبګرمي ګانې، اوتوګان، د وېښتانو وچوونکي ماشینونه او نور) چې استفاده ترې نه کوئ، بند کړئ. ښه دا دی چې سړی یو timer وکاروي چې برق له یوه ټاکلي وخت څخه وروسته په اتومات ډول بندوي.

# د برېښنا له مزو سره پام وکړئ



د کورونو خاوندان باید دا یقیني کړي چې د کورونو د برېښنا د مزو وایرېنګ یې سم شوی دی. که چېرې کوم پلګونه، مجراګانې، وایرونه یا فیوزونه ډېر ګرم شي یا د سوزېدلو نښه وښیي، تاسو باید خپلې د برېښنا محلي ادارې یا با صلاحیته برقي ته ژر تر ژره ټیلیفون وکړئ. په خپله د ترمیم هڅه مه کوئ. د شوقي برقي د لاس ترمیمات هم غیرقانوني وي او هم خطرناک.




# دتطبیقاتو لسټ

| | صحیح | غلط |
| --- | --- | --- |
| 1. دودزنګ په صحیح توګه نصب شوی، او داسې کار کوي چې تمه یې کېده. | | |
| 2. کورنی اورمړې وسیله (fire extinguishing equipment) موجوده ده، او هرڅوک پوهېږي چې چېرې نصب شوې ده. | | |
| 3. د تېښتې لارې معلومې دي، او ستاسو کورنی مخکې تر مخکې ستاسو له کور څخه بهر د راټولېدلو په یوه ځای باندې سره سلا شوې ده. | | |
| 4. هرڅوک پوهېږي چې د اورلګېدنې په وخت کې څه وکړي، او هرچاته د اور وژنې د ادارې د ټیلیفون نومره (۱۱۰) معلومه ده. | | |
| 5. بلې شمې په اور نه اخیستونکو شمعدانیو کې ایښې، او تر کلکې څارنې لاندې دي. | | |
| 6. زینې، ګراجونه او بهرني دېوالونه له هر ډول اور اخیستونکو موادو څخه داسې پاک دي چې د قصدي اور اچوونکو پام ځانته نه ور اړوي. | | |
| 7. بخارۍ د استعمال پر وخت تر ثابتې څارنې لاندې ساتل کېږي، او د نل سر پوښ په منظمه توګه پاکول کېږي. | | |
| 8. کله چې په کور کې هیڅوک هم نه وي، یا دا چې ویده وي، د کالیو وینځلو او کالیو وچولو ماشینونه روښانه نه پرېښودل کېږي. | | |
| 9. تلویزیون همېشه د بل\کل په تکمه باندې ګل کول کېږي، نه یوازې د ریموټ کنټرول په واسطه | | |
| 10. د برېښنا په وایرینګ کې هر ډول ترمیم او تغیر د باصلاحیته برقي په واسطه ترسره کېږي. | | |